رياض احمد چکنوری ۲۰۱۷/۰۹/۲۷

# د شپون د شپیلۍ اواز زړه راښکونکی و

((با سمهِ تعالیَ))

غنی خان ته چه پخپل وسعتِ فکر کي څه حقایق ښکاره شوی، هغه یي بی پروا د شعر په ژبه ویلی، دغه د لوړ خیا لاتو حساس شاعر د پښتو شعر له قیده راوویست.

حمزه بابا پښتو غزل کي نوی ساه پو کره اود رکود او مړاویتوب نه یي بیرته تازه او تجدید کړ.

او پخپل ژور او روڼ فکرسره یي د غزل لمن دومره پراخه کره چه هر لوستونکی پکښي د خپل ذوق اسباب وینی، نو ځکه خو بابای غزل شو.

په بره پښتونخوا کي د پښتو د نوی غزل ایجادونکی او مجدد پسرلی صاحب بلل کیږی. پسرلی صاحب د وخت اونوی زمانی د تقاضاؤ سره پښتو غزل پخپل فن او هنر سره سنبال کړ او ډیری باریکی، نازکی او رنګینی یي په غزل او نثر کي ځای کړی.

هو ! همدارنګه د شپون قلم، نثر د بند قالب نه ازاد کړ، سرکشی، او خودداری یي ور وښوده او په قلم یي د پښتو ادب نور هم شتمن، معیاری او ځلاند شو. د شپون د شپیلی خوږ او رسا اواز ولسونو او براعظمونو ته ورسید او خلکو تری خوند او لطف واخیست، شپون صاحب په نثر کي شهکاریَ وکړی، خپلی اکثری ژوند پیښی یي په ځانګړی انداز او هنری قوت د قلم په قید کي راوستی. په دغه نسبت خو یي قلم ته لوړ او بر مقام حاصل شو. شپون د دی سره سره ښه شاعر هم و او شعری ټولګه لری. خو نوی نسل ته یي د نثر لیکلو توصیه کوله.

شپون د پښتو نثر نوښتګره او ابتکاری خیره او پانګه ده. شپون نه یواځی په نثر لیکلو کي ریالست و بلکه په ټولنیز ژوند کي هم واقعیت بین و.

شپون صاحب زما د والد ((مرحوم سناتور غلام نبی چکنوری)) دوست و د هجرت په دوران یي دوستی خوږه او پخه شوه، کله چه امریکی ته لاړ او هلته استوګن شو بیابه چه پیښور ته په دوره تللو زما په والد صاحب یي د پولاو قلنګ و. زما د پلار او شپون صاحب تیلفونی رابطه کله ناکله کیده ،زما والد صاحب د ژوند په اخرو کلونو کي شپون صاحب ته لیک ورلیږلی و، د هغی خط اخرنی څو جملی داسی وی:

(( ......... اهل نظر، اهل قلم او علمی شخصیتونو چه زما د بزرگوار والد ((چکنور ملا صاحب)) په باره کي څه لیکی نو د مهربانی او خوشبینی له مخی زما په حصه کي هم هغه ستاینه لیکی چه زه یي ځان کي نه وینم، نو زه به همدومره وکړم چه د شاعر لاندنی بیت به خپل ځان ته ووایم.

نه گلم ، نه برگ سبزم ، نه درخت میوه دارم

در حیرتم که دهقان ، به چه کار کِشت ما را

شپون صیب : د هر چا د مړیني نیټه پټه وی خو باغوان پخي میوی شکوي ، شاید چي زما د ژوند وروستی لیک ستاسو په نوم ولیکل شو، اوس هم ستاسو کتاب ((و، نه و، یو شپون و می د مطالعی لاندی دی)).

ما شپون صاحب دری ځلی لیدلی دی، د لیدلو دری خاطری یي درنو لوستونکو سره شریکوم.

په ۲۰۰۶ م کال کي شپون صاحب آلمان ته راغی ،د فرانکفورت هوائي میدان نه می کورته راوست، زما ور سره اول ځل لیدل و، یو مازیگر می یوی لوړی تپی ته بوت ما د ځان سره یوه هندوانه هم واخسته ،غوښتل می چه یو ښکلی او پاک ځای کي کینو خو ځای می په اسانه نه خوښیده ، د یوځای نه بل ځای ته او د هغه نه بله خوا، خو اخر شپون صاحب وویل چه اغا صیب !

یو چرته کینه نور دی ستړی کړو، دا ځای ښه ندی دا ځای ښه نه دی، دلته د سپی چټلی ده دا ځای سوټه ده، دا ځای نم دی، زه هم هندوانی ستړی کړی وم زر کیناستم هندوانه می چه ماته کړه نو بی درکه بی خونده وه، اوس نو شپون صاحب ته خدای ور کړه را ته یي کړه چه زمکه هم نمجنه ده او هندوانه دی هم سپی پیکه ده، ویي ویل چه زه ستا په هندوانه څه لیکم، ما ورته د خندا په حالت وویل چه شپون صاحب همدا یي بس دی نور پي څه مه لیکی. خو اوس یوولس کاله وروسته دا خاطره زه پخپل قلم په داسی حال کي لیکم چه شپون تازه وفات شوی.

کله چه زما والد صاحب وفات شو نو محترم پسرلی صاحب او محترم شپون صاحب یو ځای چکنور ته راغلل او په جنازه کي شریک شول، شپون صاحب هم په جنازه خبری وکړی، دوی دواړه یوه شپه مخکښی د کندز نه کابل ته ستړی، ستومانه رسیدلی وو او چه د شپی اته بجی خبرونو کي یي زما د والد صاحب د وفات خبر اوریدلی، سهار وختی د کابل نه جلال اباد او بیا د چکنور کلی ته چه ډیر چپ پروت دی جنازی ته راورسیدل، د جنازی او خیرات نه وروسته زه دواړو محترمینو ته ور نژدی شوم چه تاسی د کندز نه کابل او له کابل نه ستړی ستومانه، مریض حالت او سخته گرمی کي جنازی ته ځان رارسولی، نو دعا می ورته وکړه پدغه حالت کی راته شپون صاحب وایي چه ((هغه سپی هندوانه ډیره پیکه وه))، بی اختیاره می وښکی بیرته شول او زر می خندا په تبسم بدله کړه. فکر کوم چه شپون صاحب په ما د غم د بار کمولو پخاطر پخوانی خاطره تازه کړه.

د وخت په تیریدو سره په کال ۲۰۱۳ م امریکی ته لاړم، شپون صاحب او زما کشر وروړعطاءالله چکنوری په یوه ښار کي اوسی، دوی د تره او وراره توب له چوکاټ نه علاوه پخوانی مستقله دوستی هم لرله، عطاءالله به یي لیدلو او خدمت ته حاضریده، دوه دری ورځی وروسته د شپون صاحب سلام ته ورغلم، له ملاقات یي څو ورځی پس زما ورور وویل چه شپون صیب، ملاصیب څلور پنځه نور نژدی ملگری به ماښام ډوډی ته دعوت کړو ما ورسره په خوشحالی ومنله، ملا صیب ((عبدالهادی عطائی)) د یوی درنی او علمی کورنی غړی او پخه سټه ده د بی الایشه طبعیت خاوند او خود دار انسان دی خوږ قلم، ژور تحلیل او شیرین مجلس لری په اسانه د چا سره دوستی هم نه کوی

خو د عطاءالله سره يي پخوانی ملګرتوب دی ، زما والد صاحب ته هم ډیر ګران و، د فلسفی غنی ، نظر او اشعارو ته ډیر زیات قایل او تسلیم دی او د شعر د هر بیت نه يي خاص لطف او اثر وړی، په لره او بره پښتونخوا کي ما په دغه اندازه بل کوم غنی شناس ندی لیدلی. د خپل کتاب ((د وخت ضَرب)) په مقدمه کي يي د غنی خان د ((مینه او حسن)) الفاظو نه د ((خدای او نیکی)) مفهوم استخراج کړی، ما د هغه د اشعارو مجموعی څخه د هغه د کتاب د سریزی نه ځانګړی کیف اخستی. د عطاءالله په کور کي د ماښام ډوډی نه پس د ((غنی پلوشی)) راواخستل شوی عطائی صاحب په لوړ اواز لوستل شروع کړل او شپون صاحب په شوق اوریدل او مونږ د مجلس کسان ورته هسی خوشحال وو ځکه د غنی اکثره اشعار زمونږ د پوهی او فهم نه لوړ وو .

د غنی د اشعارو دلوستلونه وروسته عطائی صاحب وویل چه شعر د غنی منم او نثر د شپون.

شپون صیب او ملا صیب سره خواږه دوستان وو.

په اخره کي کي د وطن په حالاتو او د غرب په کړنو لنډ بحث وشو ما د شپون صاحب نه تپوس وکړ چه اروپایان او امریکایان خپلو لاسته راوړنو یعنی په دیموکراسی او دیموکراتیکو نظامونو ډیر ویاړی، زه خوچه د ډیرو کلونو راهیسی د اروپائی ملکونو په ځانګړی توګه د آلمان انتخاباتی سیستم تعقیبوم او د شلو کلونو را پدیخوا د رای ورکونکی په حیث خپله رای استعمالوم، نو صدارت او جمهوری ریاست ته کاندیدان حزبونو ته منسوب کسان وی که یو شخص کوم حزب ته منسوب نه وی که هغه هرڅومره لایق ، سیاستمدار، محبوب او د لوړی ډیګری لرونکی هم وی د کامیابی هیڅ چانس نه لری نو ایا دا د دیموکراتیکو نظامونو یوه لویه نیمګرتیا نده؟

شپون صاحب په لنډو الفاظو کي ځواب راکړ چه دوی خپل ځان لپاره همدا سی حزبی سیستم غوره کړی دی او ولسونو هم په ښه منلی دی آیا بل کوم الترناتیف شته ؟ د دی جواب سره مجلس خاتمه وموندہ. ماته دغه مجلس ډیر دلچسپ و او ډیر خوند می تری واخیست.

شپون د خپلو افکارو د بیانولو ځانګړی طرز لاره ، د چا تقلید يي ندی کړی بلکه د ده خپل کرکټر د ده د نثر سبک و،د لیکلو په موقع احساسات کنټرول ساتل اسان کار ندی خو د شپون په نثر کي احساسات په احسنه توګه کنټرول ښکاری چه دا د هغه د قلم خاص خصوصیت او کمال و. په دی اخری کلونو کي ورته عطاء الله ویلی و چه شاید تاسو یوائځنی لیکوال اوسی چه ستاسو د خبرو او لیکلو سبک یو وی.

اروانښاد سعدالدین شپون صاحب ظریف ، باجرئته او تیز هوش انسان و، خبره يي بی جوابه نه پریښوده له وفات يي یوه هفته وړاندی عطاء الله دوی کور ته ورغلی وو، شپون صاحب ته يي ویلی و چه کاکا ! اش درته پوخ کړو، ویلی هو، ښه نور څه در ته پاخه کړو،شپون د مرګ په بستر پروت خو جواب کي يي ورکړ: اوبښ.

شپون صاحب لاړ خوخپلوانو،دوستانواو ارادتمندانو ته يي خوږی خاطری او راتلونکو نسلونو ته يي د معیاری قلم خوځولو سپارښتنه پاته شوه.

هیله ده چه په لنډ مستقبل کي د داسی خوږی شپیلی غږونکی را پیدا شی. په درنښت ۲۰۱۷/۰۹/۲۶م

آلمان – اُفن باخ